

Baghlan University Academic
Research Journal

https://baghlan.edu.af/ *Vol. 12, Issue. 2, Serial No. 35 (2024) 189-198*


# Crying to Allah and Pour the Tears Are Appreciated to Allah


**Ahmad Arif Shahir**

Department of Islamic studies, sharia Faculty, Helmand University, Afghanistan.

**Corresponding Author:** Ahmad Arif Shahir, **E-mail:** a.arif5911@gmail.com


| Article Info | ABSTRACT |
|---|---|


**Article Type:** Research Article

**Article History:**

**Received:** 17, April, 2023

**Revised:** 21, May, 2023

**Accepted:** 14, June, 2023

**Published**: 4, September, 2024



Crying to Allah and pour the tears are appreciated to Allah. Every Muslim is compile to cry from Allah's fear. If he/she can't cry, just imitation is sufficient until gain Jannah and forbade from hell. As Allah sent to all slaves various activities to be done by servants and persuade to cry during worship to Allah. By crying a lot, Muslims can be forbidden from proud, sin and can prove himself/herself as honest and affable person. Allah loves those slaves who are affable and kind. Also, being prideful can be cause to push a person to hell. Allah dislikes that crying which are from sorrow and worry. Lots of slaves, instead of religious crying they cry from sorrow. By doing this activity Allah becomes worried. In this article I talked about the importance of crying according to holy Quran and Hadith. At the conclusion, I utilized from different sources, speeches and written down English abstract. The value of this article is to cry as much as possible for Allah. It will be goodness for human. By this cause, I decided to write this article.



**Keywords:** Fear from Allah, Crying, Quran, Hadith, goodness.

To cite this article: Shahir, A. A. : 2024. Crying to Allah and pour the tears Are appreciated to Allah. Baghlan University Academic Research Journal, Vol. 12, Issue. 2, Serial No. 35 - Spring – Summer (2024), 189-198.



License: RCTD – GNJR – 0018 - 23.



Publisher: University of Baghlan




د بغلان پوهنتون علمي او څېړنيزه مجله

مجله علمی ـ تحقیقی پوهنتون بغلان

https://baghlan.edu.af/ Vol 12. Issue. 2, Serial No. 35 (2024) 189-198

# دالله تعالی له وېرې د ژړا أهمیت د قرآن او احادیثو په رڼا کې

پوهنیار احمد عارف شهیر

د هلمند پوهنتون د شرعیاتو پوهنځی د اسلامي تعلیماتو څانګې استاد.

اطلاعات مقاله

نوع مقاله:
مقاله مروری

تاریخ دریافت:
۱۴۰۳/۰۲/۲۰ هـش

تاریخ بازنگری:
۱۴۰۳/۰۲/۳۰ هـش

تاریخ پذیرش:
۱۴۰۳/۰۳/۱۰ هـش

تاریخ انتشار:
۱۴۰۳/۰۶/۱۴ هـش

## لنډيز

الله تعالی ته د ژړا (روا ژړا) اوښکې ډېرې قدرمنې دي، په هر مؤمن مسلمان باندې لازمه ده چې همېشه د الله تعالی له وېرې وژاړي که ژړا نه ورځي د ژړا پېښې دې وکړي، تر څو چې د الله تعالی د رحمت جوګه او له دوزخ څخه خلاصون و مومي. لکه څرنګه چې الله تعالی خپلو بندګانو ته د ژوند په ټولو برخو کې اوامر او نواهي رالېږلي، د عبادت پر مهال يې ژړا کولو ته هڅولي دي، د ژړا په وسیله انسان له کبر او ځان ښودنې څخه خلاصون مومي او له عاجزی څخه برخمن کېږي. خو هغه ژړا ګانې چې دغم او خفګان له کبله ترسره کېږي د الله تعالی د ناخوښی سبب ګرځي، دا چې د دنیوي غم او درد له وجهې ژړا او فریاد ناخوښه عمل دی او د الله تعالی له وېرې څخه ژړا کول د الله تعالی د خوښی سبب ګرځي. د ټولنې ډېری وګړي د الله تعالی د وېرې پر ځای دنیوي درد او غم له وجهې ژړا ګانې او فریادونه کوي، چې نوموړې کړنه د الله تعالی د غوسې او ناخوښی سبب ګرځي. په دې مقاله کې د ژړا اهمیت د قرآن او احادیثو په رڼا کې څېړل شوی، د څېړنې اهمیت په دې کې دی چې د الله تعالی له وېرې ژړا کولو په وسیله انسان د دنیا او اخرت نېکمرغي ترلاسه کوي.

**کلیدي کلمې:** وېره، ژړا، قرآن، احادیث، نېکمرغي، اهمیت.

استناد: شهیر، احمد عارف. (۱۴۰۳)، د الله تعالی له وېرې د ژړا أهمیت د قرآن او احادیثو په رڼا کې، مجله علمی-تحقیقی پوهنتون بغلان، شماره۲ ، بهار و تابستان(۱۴۰۳)، شماره مسلسل ۳۵، دور۱۲. (۱۸۹-۱۹۸).

ناشر: پوهنتون بغلان.

**سریزه**

إنالْحَمْدَ لِلَّهِ نَحْمَدُهُ وَ نَسْتَعِيْنُهُ وَ نَسْتَغْفِرهُ وَ نَعُوْذُ بِاللَّهِ مِنْ شُرُوْرِ أَنْفُسِنَا وَ مِنْ سَيِّئَاتِ أَعْمَالِنَا مَنْ يَهْدِهِ اللَّهُ فَلاَ مُضِلَّ لَهُ، وَ مَنْ يُضْلِلْ فَلاَ هَادِيَ لَهُ، وَ أَشْهَدُ أَنْ لاَ اِلَهَ إلاّ اللَّهُ وَ حْدَهُ لاَ شَرِيْکَ لَهُ، وَ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَ رَسُوْلُهُ، وَ بَعْدُ!

په اسلامي شریعت کې د الله تعالی له وېرې څخه ژړا کول ستایل شوې او د نېکو خلکو صفت ګڼل شوې ده، هر هغه څوك چې په نوموړي صفت (د الله تعالی له وېرې ژړا) باندې ګاڼلی وي زړه يې نرم او له الله تعالی څخه ډېر وېرېدونکی وي، هغه سترګې چې په دنیا کې د الله تعالی له وېرې څخه اوښکې تویوي په اخرت کې د جهنم له اوره په امن کې وي. په اوسنۍ زمانه کې ډېری وګړي د الله تعالی له وېرې څخه ژړا سره بلدتیا نه لري، خو چې کله کوم دنیوي غم او مصیبت سره مخ شي په ځانګړې توګه مېرمنې د دنیوي غمونو له وجهې له حد څخه زیاته ژړا او فریادونه کوي، چې نوموړې کړنه د الله تعالی د ناخوښۍ سبب ګرځي. لوستو خلکو ته ښايي  چې د الله تعالی له وېرې ژړا اهمیت او ښېګڼې او دنیوي غم او درد له وجهې ژړا بدګڼې او زیانونو څخه د ټولنې وګړو ته عامه پوهاوی ورکړي، تر څو چې خپله دیني وجیبه يې تر سره کړې وي، هیله ده چې نوموړې څېړنیزه مقاله په دې برخه کې ګټوره تمامه شي.

**د څېړنې میتود**

یاده موضوع ( د الله تعالی له وېرې د ژړا اهمیت د قرآن او احادیثو په رڼا کې) چې څېړنه ورباندې شوې، هر ارزښت يې د قرآن او احادیثو په رڼا کې څېړل شوی، په څېړنه کې د کتابتوني، تشریحي او توصيفي میتود څخه ګټه اخیستل شوې او معتبر مأخذونه کارول شوي دي.

**د ژړا پېژندنه**

**الف: د ژړا لغوي تعریف:** ژړا چې په عربي کې ورته (البکاء) وايي د (بکی یبکی) مصدر دی، په لغت کې اوښکې تویولو ته وايي. [۱]

**ب: د ژړا اصطلاحي تعریف:** ژړا په اصطلاح کې (هُوَ إرَاقَةُ الدّمُوعِ مِنْ أثَرِ الخَوْفِ مِنَ اللهِ أَوْ لِلْتَعْبِيْرِ عَنِ حُزْنِ فِي الْفَؤَادِ) [۱]

---

(۱) ــ ابن منظور، محمد بن مکرم علي أبو الفضل جمال الدین، (۱۴۱۴هـ ق). لسان العرب، دار صادر بیروت، ج۴، ص۵٦۲.

ژباړه: د الله تعالی له وېرې او د زړه له درده اوښکې تویولو ته ژړا ویل کېږي.

**د ژړا ډولونه**

ژړا د روا والي، او ناروا والي له حیثه په دوه ډولوه ده

لومړی: روا او جائزه ژړا

الف: د الله تعالی له وېرې ژړل.

ب: د قرآن کریم تلاوت کولو پر وخت ژړل.

دویم: ناروا او غیر جائز ژړا

الف: دوستانو له لاسه ورکولو پر وخت د غم ژړا.

ب: په ناحقه (درواغو) ژړا کول.

ج: د الله تعالی پر تقدیر باندې د نیوکې په توګه ژړا کول.

د: دنیوي حوادثو څخه د وېرې له وجهې ژړا کول.(۲)

**د الله تعالی له وېرې د ژړا اهمیت د قرآن کریم په رڼا کې**

**الف: د الله تعالی له وېرې ژړا د ایمان نښه او د علم ثمره ده**

کومو کسانو ته چې الله تعالی د ایمان قبلولو توفیق او د علم پوهه ورکړې، هغوی د الله تعالی له وېرې ډېر په عاجزۍ سجده کوونکي او ژړېدونکي وي، الله تعالی فرمايي دي: ﴿قُلْ آمِنُوا بِهِ أَوْ لا تُؤْمِنُوا إِنَّ الَّذِينَ أُوتُوا الْعِلْمَ مِنْ قَبْلِهِ إِذا يُتْلى عَلَيْهِمْ يَخِرُّونَ لِلْأَذْقانِ سُجَّداً ؛ وَيَقُولُونَ سُبْحانَ رَبِّنا إِنْ كانَ وَعْدُ رَبِّنا لَمَفْعُولاً ؛ وَيَخِرُّونَ لِلْأَذْقانِ يَبْكُونَ وَيَزِيدُهُمْ خُشُوعاً ﴾(۳)

ژباړه: ای محمده صلی الله علیه وسلم! دغو خلکو ته ووایه، چې که تاسې ومنئ او که يې و نه منئ کومو کسانو ته، چې له دې نه مخکښې علم ورکړای شوی دی هغو ته چې کله دا اورول کېږي نو هغوی پړمخې په سجده لوېږي؛ او په لوړ غږ وائي' پاك دی زمونږ پروردګار، د هغه وعده خو پوره کېدونکې وه؛ او هغوی پړمخې پر ژړا لوېږي او د هغوی تواضع لاپسې زیاتېږي.

(۱) ــ عدد من المختصين بإشراف الشيخ/ صالح بن عبد الله بن حميد إمام وخطيب الحرم المكي، نضرة النعيم في مكارم أخلاق الرسول الكريم - صلى الله عليه وسلم، دار الوسيلة للنشر والتوزيع، جدة، ج۳، ص۸۳۳.

(۲) ــ نضرة النعيم في مكارم أخلاق الرسول الكريم - صلى الله عليه وسلم، ج۳، ص۸۳۴.

(۳) ــ قرآن کریم، [الاسراء، آیت۱۰۹]

**ب: د الله تعالى له وېرې ژړا د پرهېزګارۍ نښه ده**

الله تعالى څخه وېره او پرهېزګاري الهي پېرزوينه ده، چې کوم بنده ته يې خوښه شي پر هغو يې کوي، پر کومو کسانو چې الهي پېرزوينه وشوه حق پېژني له الله تعالى څخه غواړي چې نومونه يې په شاهدي ويونکو کې وليکل شي. الله تعالى فرمايلي دي، ﴿وَإِذَا سَمِعُوا مَاأُنْزِلَ إِلَى الرَّسُوْلِ تَرٰى اَعْيُنَهُمْ تَفِيْضُ مِنَ الدَّمْعِ مِمَّا عَرَفُوْا مِنَ الْحَقِّ ۚ يَقُوْلُوْنَ رَبَّنَا اٰمَنَّا فَاكْتُبْنَا مَعَ الشّٰهِدِيْنَ﴾ (١)

ژباړه: کله چې هغوی هغه کلام وا وري چې پر پېغمبر نازل شوی دی؛ نو ته به وګورې چې د حق پېژندنې له امله د هغوی په سترګوکښې اوښکې ډنډېږي، هغوی په لوړ غږ وايي چې پروردګاره! مونږ ايمان راوړ، زمونږ نوم په شاهدي ويونکو کښې وليکه.

**ج: د قرآن کريم آيتونو اورېدلو پر وخت ژړل د انبياوو عليهم السلام تګلاره وه**

د قرآن کريم د تلاوت پر وخت (د الله تعالى له وېرې) ژړل په اسلامي شريعت کې ستايل شوی عمل دی، الله تعالى د ځينې پيغمبرانو حالت بيان کړی، چې کله به د الله تعالى آيتونه ورته اورول کېدل نو د ژړا پر حال به په سجده پرې وتل، لکه چې الله تعالى فرمايلي دي: ﴿اُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ اَنْعَمَ اللّٰهُ عَلَيْهِمْ مِّنَ النَّبِيّٖنَ مِنْ ذُرِّيَّةِ اٰدَمَ وَ مِمَّنْ حَمَلْنَا مَعَ نُوْحٍ وَّ مِنْ ذُرِّيَّةِ اِبْرٰهِيْمَ وَ اِسْرَآءِيْلَ وَ مِمَّنْ هَدَيْنَا وَ اجْتَبَيْنَا اِذَا تُتْلٰى عَلَيْهِمْ اٰيٰتُ الرَّحْمٰنِ خَرُّوْا سُجَّدًا وَّ بُكِيًّا﴾ (٢)

ژباړه: دا هغه پېغمبران دي چې پر هغو باندې الله تعالى پېرزوېنه کړې ده، د ادم عليه السلام له اولادې نه(ادريس او نوح عليهما السلام) او د هغو خلکو له ځوځات (ابراهيم عليه السلام) څخه چې مونږ هغوی له نوح سره په کښتۍ کې سپاره کړي وو، او د ابراهيمعليه السلام له اولادې(اسماعيل، اسحاق او يعقوب) نه او د اسرائيل عليه السلام له اولادې (مُوسَى وَهَارُونُ وَزَكَرِيًّا ويحيى) نه، دوی له هغو خلکو څخه وو چې مونږ ورته لارښوونه وکړه او غوره مو کړل او د هغو حال دا ؤ چې کله به د رحمن ايتونه ورته اورول کېدل نو د ژړا په حال کښې به په سجده پرې وتل.(٣)

(١) ــ قرآن کريم،[المائدة، آيت٨٣]

(٢) ــ قرآن کريم،[مريم، آيت٥٨]

(٣) ــ البغوي، محيي السنة ، أبو محمد الحسين بن مسعود بن محمد بن الفراء، (٥١٠ هـ ق). تفسير البغوي، تحقيق: عبدالرزاق المهدي، بيروت، دار إحياء التراث العربي، ج٣، ص٢٣٩.

**د: د الله تعالی له وېرې ژړا د عاجزۍ نښه ده**

په کومو کسانو باندې چې الله تعالی د ایمان راوړلو او پوهې پېرزوینه کړې د آیتونو اورېدلو پر وخت یې عاجزي زیاتېږي. الله تعالی فرمایلي :﴿قُلْ آمِنُوا بِهِ أَوْ لاَ تُؤْمِنُوا إِنَّ الَّذِينَ أُوتُوا الْعِلْمَ مِنْ قَبْلِهِ إِذَا يُتْلَى عَلَيْهِمْ يَخِرُّونَ لِلأَذْقَانِ سُجَّدًا؛ وَيَقُولُونَ سُبْحَانَ رَبِّنَا إِنْ كَانَ وَعْدُه رَبِّنَا لَمَفْعُولاً؛ وَيَخِرُّونَ لِلأَذْقَانِ يَبْكُونَ وَيَزِيدُهُمْ خُشُوعًا﴾ (۱)

ژباړه: ای محمد! صل الله علیه وسلم دغو خلکو ته و وایه چې که تاسې ومنئ او که یې و نه منئ کومو کسانو ته چې له دې نه مخکښې علم ورکړای شوی دی هغو ته چې کله دا اورول کېږي، نو هغوی پر مخې په سجده لوېږي، او په لوړ غږ وائي پاك دی زمونږ پروردګار، د هغه وعده خو پوره کېدونکې وه او هغوی پر مخې پر ژړا لوېږي او د هغه په اورېدو سره د هغو تواضع لاپسې زیاتېږي.

**الله تعالی له وېرې د ژړا اهمیت د احادیثو په رڼا کې**

**الف: رسول الله صلی الله علیه وسلم د الله تعالی له وېرې ژړلي دي**

لکه څرنګه چې د عبدالله ابن مسعود رضي الله عنه څخه روایت دی، (عَنْ عَبْدِ اللَّهِ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «اقْرَأْ عَلَيَّ» قَالَ: قُلْتُ: أَقْرَأُ عَلَيْكَ وَعَلَيْكَ أُنْزِلَ قَالَ: إِنِّي أَشْتَهِي أَنْ أَسْمَعَهُ مِنْ غَيْرِي قَالَ: فَقَرَأْتُ النِّسَاءَ حَتَّى إِذَا بَلَغْتُ: {فَكَيْفَ إِذَا جِئْنَا مِنْ كُلِّ أُمَّةٍ بِشَهِيدٍ، وَجِئْنَا بِكَ عَلَى هَؤُلاَءِ شَهِيدًا} قَالَ لِي:كُفَّ - أَوْ أَمْسِكْ -فَرَأَيْتُ عَيْنَيْهِ تَذْرِفَانِ) (۲)

ژباړه: له عبدالله ابن مسعود رضي الله عنه څخه روایت دی، هغه وایي: چې رسول الله صلی الله علیه وسلم راته وفرمایل: ما باندې قرآن وا وراوه، وایي: ما ورته وویل: تاسو باندې قرآن واوروم حال دا چې قرآن پر تاسو باندې نازل شوی دی، وایي: رسول الله صلی الله علیه وسلم راته وفرمایل: زه دا خوښوم چې له نورو څخه قرآن واورم، وایي: د النساء سورت تلاوت مې پیل کړ، کله چې دغه ځای (نو څېر شئ چې دوی به په هغه وخت کښې څه وکړي، چې مونږ له هر امت نه یو شاهد راولو او پر دغه امت باندې تا ( محمد صلی الله علیه واله وسلم) شاهد تېر کړو) ته راورسیدم رسول الله صلی الله

(۱ ): قرآن کریم، [سورة الاسراء، آیت ۱۰۷، ۱۰۸، ۱۰۹]

(۲ ) ــ محمد بن إسماعيل أبو عبدالله البخاري الجعفي، (۱۴۲۲هـ). صحيح البخاري، څېړونکی: محمد زهير بن ناصر الناصر، چاپ ځای: دار طوق النجاة،، ج٦، ص۱۹۷، حدیث شمېره (۵۰۵۵)

علیه وسلم راته وویل: بس کړه، چې کله مې د رسول الله صلی الله علیه وسلم سترګو ته وکتل اوښکې ترې بهېدلې.

**ب: صحابه رضي الله عنهم به د الله تعالی له وېرې ژړل**

صحابه رضي الله عنهم به د الله تعالی له وېرې همېشه ژړل، ابو هریرة رضي الله عنه څخه روایت دی: (عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: لَمَّا نَزَلَتْ أَفَمِنْ هَذَا الْحَدِيثِ تَعْجَبُونَ وَتَضْحَكُونَ ولَا تَبْكُونَ) [۱] بَكَى أَصْحَابُ الصُّفَّةِ حَتَّى جَرَتْ دُمُوعُهُمْ عَلَى خُدُودِهِمْ، فَلَمَّا سَمِعَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَنِينَهُمْ بَكَى مَعَهُمْ فَبَكَيْنَا بِبُكَائِهِ فَقَالَ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: لاَ يَلِجُ النَّارَ مَنْ بَكَى مِنْ خَشْيَةِ اللهِ...)

ژباړه: له ابو هریرة رضي الله عنه څخه روایت دی، هغه وايي: کله چې نوموړی آیت ( نو ایا همدا هغه خبرې دي چې تاسې پرې تعجب ښکاره کوئ؟ خاندئ او ژاړئ نه؟) نازل شو د صُفې صحابه وو رضي الله عنهم وژړل، آن تر دې چې اوښکې یې پر مخونو باندې روانې شوې. کله چې رسول الله صلی الله علیه وسلم د دوی د ژړا غږ واورېده دوی سره یې (په ګډه) وژړل، مونږ هم د رسول الله صلی الله علیه وسلم سره یو ځای وژړل، بیا رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: هغه نفس ته اور نه رسېږي کوم چې د الله تعالی له وېرې ژاړي.

**ج: ابو بکر صدیق رضي الله عنه د الله تعالی له وېرې ډېر ژړېدونکی ؤ**

عائیشه رضي الله عنه د خپل پلار په اړه ویلي: (...وكَانَ أَبُو بَكْرٍ رَجُلاً بَكَّاءً، لاَ يَمْلِكُ عَيْنَيْهِ إِذَا قَرَأَ القُرْآنَ، فَأَفْزَعَ ذَلِكَ أَشْرَافَ قُرَيْشٍ مِنَ المُشْرِكِينَ) [۲]

ژباړه: عائشه رضي الله عنها د خپل پلار (ابو بکر رضی الله عنه) په اړه وايي: چې هغه د قرآن د تلاوت پر وخت ډېر ژړېدونکی ؤ، آن تر دې چې د قریشو مشران به د ده د ژړا له وجهې په وېره کې ؤ.

**د: د الله تعالی له وېرې ژړېدونکو سترګو ته اور نه رسېږي**

کومې سترګې چې په دنیا کې د الله تعالی له وېرې اوښکې تویې کړي او ژاړي د قیامت په ورځ به د دوزخ له اور څخه په امن کې وي، لکه چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم حدیث دی، (عَنْ ابْنِ

---

(۱) ــ قرآن کریم، [النجم، آیت ٦٠]

(۲ ): صحیح البخاري، ج۱ ص۱۰۲.

عَبَّاسٍ قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: عَيْنَانِ لاَ تَمَسُّهُمَا النَّارُ: عَيْنٌ بَكَتْ مِنْ خَشْيَةِ اللَّهِ، وَعَيْنٌ بَاتَتْ تَحْرُسُ فِي سَبِيلِ اللَّهِ)(۱)

ژباړه: له عبدالله ابن عباس رضي الله عنهما څخه روایت دی، هغه وایي: چې رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه مې اورېدلي دي ویل یې: دوه ډوله سترګې دي چې اور به ورته و نه رسېږي، هغه سترګې چې د الله تعالی له وېرې یې ژړلي وي، هغه سترګې چې د الله تعالی په لاره کې یې شپه په ویښه تېره کړې وي.

**ه: د الله تعالی له وېرې ژړا انسان د عرش له سیوري څخه برخمن کوي**

د الله تعالی له وېرې ژړېدونکی شخص به د قیامت په ورځ د الله د عرش له سیوري څخه برخمن وي، د رسول الله صلی الله علیه وسلم حدیث دی، (عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: سَبْعَةٌ يُظِلُّهُمُ اللَّهُ: رَجُلٌ ذَكَرَ اللَّهَ ففَاضَتْ عَيْنَاهُ ) (۲)

ژباړه: ابو هریرة رضي الله عنه له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه روایت کوي، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: اووه کسان دي چې د الله تعالی د عرش له سیوري څخه برخمن کېږي، هغه شخص چې د الله تعالی ذکر کوي او له سترګو یې اوښکې بهېږي.

**و: د الله تعالی له وېرې تویې شوې اوښکې الله ته ډېرې محبوبې دي**

کومې سترګې چې د الله تعالی له وېرې اوښکې تویوي هغه الله ته ډېرې محبوبې دي، د رسول الله صلی الله علیه وسلم حدیث دی، (عَنْ أَبِي أُمَامَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: لَيْسَ شَيْءٌ أَحَبَّ إِلَى اللَّهِ مِنْ قَطْرَتَيْنِ وَأَثَرَيْنِ، قَطْرَةٌ مِنْ دُمُوعٍ فِي خَشْيَةِ اللَّهِ، وَقَطْرَةُ دَمٍ تُهَرَاقُ فِي سَبِيلِ اللَّهِ...) (۳)

ژباړه: ابو امامة رضي الله عنه له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه روایت کوي، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: له دوه څاڅکو او دوه نښو څخه الله تعالی ته بل هېڅ شی محبوب نه دي، د اوښکو هغه څاڅکی چې د الله له وېرې تویې شوی وي، د وینې هغه څاڅکي چې د الله په لاره کې تویې شوې وي.

(۱) ــ سنن الترمذي، ج۴، ص۱۷۵، حدیث شمېره (۱۶۳۹)

(۲) ــ صحيح البخاري، ج۸، ص۱۰۱، حدیث شمېره (۶۴۷۹)

(۳) ــ سنن الترمذي، ج۴، ص۱۹۱، حدیث شمېره (۱۶۶۹)

ذکر شوي حدیث شریف کې د اوښکو هغه څاڅکي چې د الله له وېرې تويې شوی وي یادونه شوې چې الله ته ډېر غوره دی.

**ز: څوک چې د الله تعالی له وېرې ژاړي د جهنم اور پرې حرام دی**

هغه څوک چې د الله تعالی له وېرې څخه ژاړي د هغه سترګو د جهنم اور رسېدل ناممکن دي، لکه چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم حدیث دی،(عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: لَا يَلِجُ النَّارَ مَنْ بَكَى مِنْ خَشْيَةِ اللهِ حَتَّى يَعُودَ اللَّبَنُ فِي الضَّرْعِ) [1]

ژباړه: له ابو هريرة رضي الله عنه څخه روايت دی هغه وايي: چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايلي دي: هغو سترګو ته به اور و نه رسېږي چې په دنيا کې يې د الله تعالی له وېرې ژړلې وي، تر څو چې لوشل شوې شيدې بېرته غلانځې ته داخلې نه شي.

**ح: کوم شخص ته چې ژړا نه ورځي بايد د ژړا پېښې وکړي**

د ځينې کسانو حالات داسې وي چې د الله تعالی له وېرې ژړا نه ورځي، چې دا ښه صفت نه دی هغوی چې ژړا نه ورځي بايد د ژړا پېښې وکړي، تر څو چې د الهي رحمت څخه برخمن شي، لکه په دې روايت کې: (عَنْ عَرْفَجَةَ قَالَ: قَالَ أَبُو بَكْرٍ الصِّدِّيقُ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ: مَنِ اسْتَطَاعَ مِنْكُمْ أَنْ يَبْكِيَ فَلْيَبْكِ، وَمَنْ لَمْ يَسْتَطِعْ فَلْيَتَبَاكَ) [2]

ژباړه: له عرفجة رضي الله عنه څخه روايت دی، هغه وايي ابو بکر رضي الله عنه ويل: څوک چې کولای شي چې وژاړي، و دې ژاړي، که چاته ژړا نه ورځي د ژړا پېښې دې وکړي.

**پايله**

د څېړنې په پای کې زه د بحث هغه لنډې پايلې ذکر کوم، چې د ليکنې په جريان کې ورته رسېدلی يم، د الله تعالی له وېرې ژړا د ايمان او پرهېزګارۍ نښه ده، د الله تعالی له وېرې ژړا د رسول الله، انبياء عليهم السلام او صحابه رضي الله عنهم تګلاره وه، په دنيا کې د الله تعالی له وېرې ژړېدلې سترګې آخرت کې د جهنم له اوره په امن کې وي، هر هغه څوک چې د الله تعالی له وېرې ژړېدلی وي هغه

---

[1] ــ البيهقي، أحمد بن الحسين بن علي بن موسى الخُسْرَوْجِردي الخراساني، أبو بكر (٤٥٨هـ). شعب الايمان، تحقيق: الدكتور عبد العلي عبد الحميد حامد، مكتبة الرشد للنشر والتوزيع بالرياض، ج۲، ص۲۳۴، حديث شمېره (۷۷۹)

[2] ــ ابن مبارك، أأبو عبد الرحمن عبد الله بن المبارك بن واضح الحنظلي، التركي ثم المرْوزي، (۱۸۱هـ). الزهد والرقائق لابن المبارك، تحقيق: حبيب الرحمن الأعظمي، بيروت، دار الكتب العلمية، ج۱، ص۴۲.

به په آخرت کې د عرش له سیوري څخه برخمن وي، د الله تعالی له وېرې تویې شوې اوښکې الله ته ډېرې قدرمنې دي.

**مأخذونه**

قرآن کریم

۱: ابن مبارک، اأبو عبد الرحمن عبد الله بن المبارك بن واضح الحنظلي، التركي ثم المرْوزي، (۱۸۱هـ). الزهد والرقائق لابن المبارك، تحقيق: حبيب الرحمن الأعظمي، بيروت، دار الكتب العلمية.

۲: ابن منظور، محمد بن مكرم علي أبو الفضل جمال الدين، (۱۴۱۴هـ ق). لسان العرب، دار صادر بيروت، ج۴، ص۵٦۲.

۳: البُستي، محمد بن حبان بن أحمد بن حبان بن معاذ بن مَعْبدَ، التميمي، أبو حاتم، الدارمي، ، (۱۴۱۴). صحيح ابن حبان بترتيب ابن بلبان، څېړونکی: شعيب الأرنؤوط، چاپ ځای: بيروت، مؤسسة الرسالة. قرآن کریم

۴ :البغوي، محيي السنة ، أبو محمد الحسين بن مسعود بن محمد بن الفراء، (۵۱۰ هـ ق). تفسير البغوي، تحقيق: عبدالرزاق المهدي، بيروت، دار إحياء التراث العربي، ج۳، ص۲۳۹.

۵ : البيهقي، أحمد بن الحسين بن علي بن موسى الخُسْرَوْجِردي الخراساني، أبو بكر (٤۵۸هـ). شعب الايمان، تحقيق: الدكتور عبد العلي عبد الحميد حامد، مكتبة الرشد للنشر والتوزيع بالرياض، ج۲، ص۲۳۴، حدیث شمېره (۷۷۹)

٦: الترمذي، محمد بن عيسى بن سَوْرة بن موسى بن الضحاك، أبو عيسى، (۱۳۹۵ هـ). سنن الترمذي، څېړونکی: ومحمد فؤاد عبد الباقي، چاپ ځای: مصر، شركة مكتبة ومطبعة مصطفى البابي الحلبي

۷: صهيب عبدالجبار، (ب، ت) المسند الموضوعي الجامع للكتب العشرة.

۸: عدد من المختصين بإشراف الشيخ/ صالح بن عبد الله بن حميد إمام وخطيب الحرم المكي، نضرة النعيم في مكارم أخلاق الرسول الكريم - صلى الله عليه وسلم، دار الوسيلة للنشر والتوزيع، جدة، ج۳، ص۸۳۳.

۹: محمد بن إسماعيل أبو عبدالله البخاري الجعفي، (۱۴۲۲هـ). صحيح البخاري، څېړونکی: محمد زهير بن ناصر الناصر، چاپ ځای: دار طوق النجاة،، ج٦، ص۱۹۷، حدیث شمېره (۵۰۵۵)

۱۰: نضرة النعيم في مكارم أخلاق الرسول الكريم - صلى الله عليه وسلم، ج۳، ص۸۳۴.